د افغانستان اسلامي امارت

**د ارشـــــاد، حـــج او اوقافــــو وزارت**

**د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست**

**دجمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير اوبيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۳۰/ شوال المکرم /۱۴۴۷ هـ، ق مطابق ۲۸ / حمل/۱۴۰۵هـ، ش**

# د اسراف او تبذير دُنيوي او اُخروي زيانونه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدُ للهِ ذي الطَّوْلِ والإنْعامِ، المحسنِ بفضلِهِ إلى جميعِ الخَلْقِ والأنامِ، الذي خَلَقَ كلَّ شيءٍ فقدَّرَهُ تقديراً، وأشهدُ أنْ لا إلهَ إلاّ اللهُ وحدَهُ لا شريكَ له؛ أحلَّ الحلالَ وحرَّمَ الحرامَ، ونَهَى أنْ يُبَذَّرَ المالُ تبذيراً، وأشهدُ أنَّ محمداً عبدُ اللهِ ورسولُهُ، وصفوتُهُ مِنْ خَلْقِهِ وخليلُهُ، وأفضلُ رُسلِهِ الكرامِ، أرسلَهُ ربُّهُ هادياً ومُبشِّراً ونذيراً، وداعياً إلى اللهِ بإذنِهِ وسِراجاً مُنيراً، صلَّى اللهُ عليهِ وعلَى آلهِ وصحبِهِ الذينَ اقتصدوا في عَيْشِهم فلم يُسْرِفوا ولم يُقتِّروا تَقْتيراً، وسلَّمَ تسليماً كثيراً.

أمَّا بعدُ: فقد قال الله عزَّ وجلَّ في كتابه المجيد:( وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا * إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا) .الاسراء:(۲۶-۲۷)

**درنو حاضرينو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

الله جل جلاله دمسلمانانو ژوند په شريعت سره تنظيم کړی دی او داسې هيڅ ګټور کار نشته ، مګر مسلمانان يې ورته وربللي دي او هيڅ داسې زيانمن کار نشته ، مګر مسلمانان يې ورڅخه ويره ولي او منع کړي دي.

هغه عادات او خصلتونه، چې نن سبا په ټولنه کې اوج ته رسيدلي دي او د ټولنې اکثره غړي وربانديې مبتلاء دي، هغه اسراف او تبذير دی.

اسراف او تبذير د هغو ناروا او بدو عادتونو او رواجونو څخه دي ، چې له انسان څخه اعتدال ، ميانه روي اخلي او دُنيوي او اُخروي ناوړه خطرناکې پايلې لري. اسراف او تبذير هغه ناوړه عادتونه دي، چې په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې حرام ګرځول شوي دي. اسراف په عربي لغت کې د حد څخه تجاوز کولو ته ويل کيږي.

او په شريعت کې اسراف د جائزو شيانو څخه د حاجت څخه د زياتې استفادې کولو ته اسراف ويل کيږي.

او په غير مشروع مواردو او کارونو کې د مال لګولو ته تبذير ويل کيږي، ولو که هغه مال کمه اندازه هم وي.

امام راغب رحمه الله ليکي:( تجاوز الحد في كل فعل يفعله الإنسان، وإن كان ذلك في الإنفاق أشهر) .مفردات ألفاظ القرآن (۱/ ۴۷۳)

ژباړه:اسراف په هغه څه کې چې انسان يې کوي په هغه کې دحد څخه تجاوز کولو ته ويل کيږي،اګر چې اسراف په انفاق کې زيات شهرت لري.

امام ابن عابدين رحمه الله د اسراف او تبذير ترمنځ د توپير په اړه ليکلي دي: (والتحقيق أن بينهما فرقا وهو أن الإسراف صرف الشيء فيما ينبغي زائدا على ما ينبغي ، والتبذير صرفه فيما لا ينبغي). رد المحتار (٢٩/ ٣٥٨)

ژباړه: تحقيق دادی چې د اسراف او د تبذير ترمنځ فرق شته او هغه داسې چې اسراف مصرفول د شي دي په جائزو ځايونو کې زيات له هغه څه نه چې جائز وي. او تبذير مصرفول د شي دي په هغه څه کې چې جائز نه وي.

امام راغب اصفهاني رحمه الله وايي: تبذير ډير قبيح دی نسبت اسراف ته ، ځکه چې تبذير کوونکی ضائع او تلف کوونکی د مال دی. الذريعة إلى مكارم الشريعة:( ص٢١٦).

اسراف او تبذير په شرعي نصوصو او دعلماوو په عباراتو کې يو د بل پرځای هم استعمال شوي دي.

اسراف لکه څرنګه چې د شر په کارونو کې وي ، د خير په کارونو کې هم وي، لکه ځوک چې ټول مال فقيرانو او مسکينانو ته ورکړي او ځان او خپل عيال ته څه پر نږدي.يا لکه څوک چې دمرګ پر وخت داسې وصيت وکړي، چې د هغه ټول مال دې په خيريه کارونو کې ولګول شي.يا لکه څوک چې ټول عمر روژه نيسي وي. په حديث شريف کې راځي، نبي عليه السلام فرمايلي دي:« إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ ». صحيح البخاري ت (١/ ٤٣)

ژباړه: دين آساني ده او (هيڅوک) هيڅکله له دين سره په سختۍ او زور مقابله نه کوي، مګر دا چې دين به پرې غالب شي (او هغه به مغلوب کړي).

همدارنګه لکه څرنګه چې د اسراف او تبذير د اغنياوو او ثروتمندو له خوا صادريږي ، د فقيرانو او متوسط اقتصاد لرونکو خلکو څخه هم صادريږي.

هم دارنګه اسراف کله په اندازه او قدر کې وي او کله اسراف په کيفيت کې وي، لکه چې سفيان ثوري رحمه الله فرمايلي دي:(ما أنفقت في غير طاعة الله فهو سرف، وإن كان قليلا).مفردات ألفاظ القرآن ـ(١/ ٤٧٣)

ژباړه: هغه څه چې ته يې خرچ کوې د الله تعالی د طاعت څخه په بل څه کې ، نو دا اسراف دی ولو که خرچ شوی شی کم هم وي.

امام مجاهد رحمه الله وايي:(لو كان لرجل مثل أبي قبيس ذهبا فأنفقه في طاعة الله لم يكن مسرفا ولو أنفق درهما في معصية الله تعالى كان مسرفا).تفسير بحر العلوم (٢/ ٥٤٥)

ژباړه: که چيرې د سړي د ابوقُبيس د غر په اندازه سره زر وي او بيا يې خرچ کړي د الله تعالی په طاعت کې ، نو نه به وي دا شخص اسراف کوونکی او که چيرې خرچ کړي يو درهم د الله تعالی په نافرمانۍ کې ، نو وي به دا شخص اسراف کوونکی.

همدارنګه حضرت عمر فاروق رضي اللله عنه فرمايي:(كفى سرفًا أن لا يشتهي الرجل شيئًا إلا اشتراه فأكله).تفسير البغوي (٦/ ٩٥)

ژباړه: دومره اسراف کفايت کوي چې سړی د يو شی اشتها نلري ، مګر بيا هم هغه واخلي او هغه وخوري.

**د اسراف او تبذير اسباب:** اسراف او تبذير لکه د نورو ګناهونو په شان اسباب لري ، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

**١-د شريعت له تعليماتو څخه بې خبري:** د اسلام مقدس دين د هر ډول اسراف او تبذير څخه منع کړې ده او فرمايلي يې دي:(وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا).الاعراف:(٣١)ترجمه:او خورئ او څښئ او اسراف (بې ځايه خرڅ) مه کوئ تاسې.

**۲-د ځوانی او د ژوند لومړی مرحله:** ځینې ځوانان او پیغلې په داسې کورونو کې رالوئیږي، چې په هغو کورنیو خلک په اسراف او تبذیر باندې اخته وي، نو ځوانان او پیغلې د کور د مشرانو پیروي کوي او ځواني، چې تل رفاهیت او ډول ډول خوراکونو او اسرافي کړنو سره علاقمندي لري، د خپل ژوند په هره برخه کې اسراف کوي او په ناوړه او ناروا کارونو کې د مور او پلار مال مسرفوي.

**۳-د دنیوي ژوند له تغیراتو څخه بې خبري:** دنیوي ژوند تل په یو حال نه وي او دنیوي ژوند د تغیراتو څخه خالي نه وي . لکه غنی او ثروت ، فقر او بیچارګي دا ټول حالات د انسان په ژوند کې راتلونکي دي .خو ځینې خلک چې لږه سرمایه پیدا کړي فکر کوي چې دا به تل وي ، نو ځکه اسراف او تبذیر ته مخه کوي او دیته فکر نه کوي چې فقر او بیوزلي بیا هم راګرځیدلی شي او په کار ده چې د الله تعالی په نعمت (مال) کې اسراف ونکړي ، بلکې د الله تعالی نعمت(مال) د بدو ورځو لپاره ذخیره کړي، چې دیته په شریعت کې تدبیر ویل کیږي.

**۴-د سختی څخه وروسته پراخي:** په ځینو حالاتو کې داسراف او تبذیر لامل د سختی څخه وروسته د پراخی راتلل وي.ځینې خلک یو وخت په سختو اقتصادي مشکلاتو کې راګیر وي او د ژوند سختی تجربه کوي بیا ورته الله مال او دولت ورکړي او ثروتمند شي، نو کله چې زیاتې پیسې پیدا کړي ، نو اسراف او تبذیر ته مخه کړي او هغه تیرې شپې او ورځې ورڅخه له یاده ووځي. په کار ده چې مسلمان په هر حالت کې صبر او اعتدال رعایت کړي او داسې فکر وکړي چې بیا هم ولږه او تنده راتللی شي، نو په کار ده چې له اسراف څخه ځان وساتي.

**۵-داسراف کوونکو سره ملګرتیا:** څوک د اسراف کوونکو سره ملګرتیا کوي، نو هغوی هم په دغه مرض اخته کیږي او په اسراف او تبذیر باندې عادت کیږي. د همدې وجی نه په حدیث شریف کې راځي نبي علیه السلام فرمایلي دي:« الرَّجُلُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ ». سنن أبی داود-ن (٤/ ٤٠٧)ژباړه: سړی د ملګري په عادت او طریقه باندې وي، نو ودې ګوري یو له ستاسو څخه چې له چاسره ملګرتیا کوي.

**٦-ځان ښودنه او د خرچو سره مینه کول:** ځینې خلک د ځان ښودنې او شهرت په خاطر اسراف او تبذیر ته لاس اچوي او ځینې خلک بیا د مزو او چړچو او زیاتو خرچو کولو سره مینه او محبت لري او له دې امله اسراف او تبدیز کوي.

**۷-د اسراف او تبذیر له خطرناکو پایلو څخه بې خبرې:** ځینې خلک د اسراف او تبذیر له تباه کوونکو پایلو څخه ناخبره وي . او له دې څخه ناخبره وي چې اسراف او تبذیر په دنیا او آخرت کې خطرناکې پایلې لري.

**د اسراف او تبذیر دُنیوي او اُخروي زیانونه:** اسراف او تبذیر ډیر زیات دُنیوي او أُخروي زیانونه لري ، چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

**۱-د الله جل جلاله له محبت څخه محرومیدل:** اسراف کوونکي او تبذیر کوونکي د الله جل جلاله له محبت څخه بې برخې وي، ځکه چې الله جل جلاله له اسراف کوونکو او تبذیر کوونکو سره محبت نه کوي. الله جل جلاله په قرآن کریم کې دوه ځایه فرمایلي دي چې الله تعالی نه خوښوي اسراف کوونکي:(إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ).الانعام:(۱٤۱) ، الاعراف:(۳۱)

ترجمه: بیشکه چې الله نه خوښوي مصرفان (بې ځایه خرڅ کوونکي).

په یو بل مبارک آیت کې راځي:(إن الله لا يهدي من هو مسرف كذاب).غافر:(۲۸)

ترجمه:بېشکه سمه لاره نه ښيي هر هغه چا ته چې هغه مسرف له حده تېرېدونکی وي،ډېر دروغجن وي.

**۲-اسراف كوونكي د اور (جهنم) ملګري دي:** د اسراف په اړه په قرآن کريم کې ډير سخت وعيد راغلی دی او الله تعالی فرمايلي دي، چې اسراف كوونكي همدوی دي د اور(جهنم) ملګري.(وأن المسرفين هم أصحاب النار)غافر:(۴۳)

ترجمه: او بېشكه چې مسرفان له حده تيريدونكي(مشركان)همدوی ملګري د اور( د دوزخ)دي(چې تل په کې اوسيږي).

**۳- اسراف او تبذير د شـيطان د ملګرو صفتونه دي:** اسراف او تبذير د شيطان د ملګرو صفتونه دی او د الله تعالی ددوستانو صفت اعتدال او ميانه روي ده.الله جل جلاله فرمايلي دي:( وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا * إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّـيَاطِينِ وَكَانَ الشَّـيْطَانُ لِرَبِّهِ كَفُورًا).الاسراء:(۲٦-۲۷)

ترجمه: بېشکه چې اسراف كونكي دي دوی ورونه د شيطانانو(يعنى په مثل د شيطانانو دي په شرارت او اتلاف کې)،او دی شيطان رب خپل ته ډير ناشكره.

اسراف كوونكي د شيطان ملګري دي او شيطان د خپل رب څخه نافرمانه او ناشكره دی، نو اسراف كوونكي هم د الله تعالی څخه ناشکره دي ، ځکه دوی ته الله تعالی مال ددې لپاره ورکړی ؤ ترڅو دوی ور باندې خپل ضرورتونه او حاجتونه پوره کړي او خپل ژوند ور باندې ودروي، دوی د الله تعالی مال په ناروا او غير مشروع کارونو کې مصرف کړ او دالله تعالی د نعمت ناشكري يې وکړه.

مفسرين وايي ددې آيت معنا داده چې تبذير ته شيطان رابلل کوي ؛ ځکه تبذير يا به په فساد کې خرڅ کول وي او يا به په سپکو او لذتونو کې خرڅ کول وي ، نو د خير په لار کې خرڅ کول به معطل پاتې شي او په دې ټولو کارونو شـيطان خوشـحاليږي ، نو ځکه مبذرين د شيطان له ورونو او لښکر څخه وشمارل شول. التحرير والتنوير (۸/ ۲۹۲)

بلخوا ته د الله تعالی ددوسـتانو صـفت دادی چې هغوی نه اسراف کوي او نه کنجوسي کوي، بلکې اعتدال او ميانه روی څخه کار اخلي الله جل جلاله فرمايي:(وَالَّذِينَ إِذَا أَنْفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا وَكَانَ بَيْنَ ذَلِكَ قَوَامًا).الفرقان:(٦٧)

ترجمـه: او(بنـدګـان د رحمان)هغه کســـان دي کله چې نفقه ورکوي مال مالګوي، نو نه اسراف کوي، او نه تنګي(اوبخل)کوي او وي(دغه ورکړه د دوی)په منځ د دغه(اسراف او تقتير)کې ميانه حاله.

**۴-د اسراف كوونكو او تبذير كوونكو سره شيطان په ژوند کې شريک وي:**

څوک چې په خوراک، څښاک، مسکن او پريوتلو په فرشونو کې اسراف او تبذيرکوي او پرته له حاجته په لارو ، دهليزونو او زينو کې يې فرشـونه او قالينې غوړولې وي او يا رنګارنګ او قسـماقسـم اضافي لباسونه لري ، نو د داسې اشخاصو سره شيطان په دغو ټولو مصرفونو کې شريک دی. په حديث شريف کې راځي. نبي عليه السلام فرمايلی دي: « فِرَاشٌ لِلرَّجُلِ وَفِرَاشٌ لامْرَأَتِهِ وَالثَّالِثُ لِلضَّيْفِ وَالرَّابِعُ لِلشَّيْطَانِ ». صحيح مسلم (٦/ ١٤٦)

ژباړه: يوه بستره د سړي لپاره ده او بله بستره د هغه دښځې لپاره ده او دريمه بستره د ميلمه لپاره ده او څلورمه بستره د شيطان لپاره ده.

**۵-د انسان څخه به د قيامت په ورځ د هغه د مال په باره کې پوښتنه کيږي:** ځينې کسان داسې فکر کوي ، چې مال او ثروت د هغه ملکيت دی او چې څرنګه يې خوښه وي هغسې به يې مصرفوي. خو داسې فكر كول غلط دی، بلکې مال ، دولت او ثروت الله تعالی انسان ته ورکړی دي، دا د الله تعالی نعمتونه دي او الله تعالی به د قيامت په ورځ ورڅخه ددغو نعمتونو او مالونو په باره کې پوښتنه کوي چې مال دې څرنګه او په څه ډول مصرف کړی ؤ؟الله جل جلاله فرمايلي دي:(ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ)التكاثر: (۸)

ترجمه: بيا خامخا پوښتنې وشي له تاسې څخه هرو ومرو په دغې ورځې کې له نعمتونه هوساينو نه(چې درکړي يې وو تاسې ته په دنيا کې).

د حضرت علی کرم الله وجهه څخه ددې آیت د نعمتونو په اړه پوښتنه وشوه ، حضرت علی رضي الله عنه ورته وفرمایل: د هغه نعموتونو په باره کې به چې پوښتنه کیږي هغه د غنمو ډوډۍ، د خوړو یخو اوبو څښل او هغه کور چې په کې اوسیږي ، نو دا هغه نعمتونه دي چې د هغې په باره کې به پوښتنه کولی شي. تفسیر ابن أبي حاتم (۱۲/ ٤٤٧)

د زید بن اسلم په روایت سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه نقل دي چې نبي علیه السلام ددې آیت { ثُمَّ لَتُسْأَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ }په باره کې وفرمایل: یعنې د خیټو ډکولو، یخو اوبو څښـل ، د کورونو سـیوري ، برابر مزاج درلودل او د خوب د لذت څخه به پوښتنه کیږي.

سعید بن جبیر رحمه الله وایي: پوښتنه به کیږي د شهدو (عسلو) د خوړلو څخه.

امام مجاهد وایي : پوښتنه به کیږي د هر لذت ددنیا له لذتونو څخه. تفسیر ابن کثیر / دار الفکر (٤/ ٦٧٠)

همدارنگه په حدیث شریف کې راځي. نبي علیه السلام فرمایلي دي:«لَا تَزُولُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ وَعَنْ عِلْمِهِ فِيمَ فَعَلَ وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَ أَنْفَقَهُ وَعَنْ جِسْمِهِ فِيمَ أَبْلَاهُ؟». سنن الترمذي (٤/ ٦١٢)

ژباړه: تر هغې به دواړه قدمونه د بنده پرځای ولاړ وي د قیامت په ورځ؛ ترڅو چې ور څخه پوښتنه وشي د هغه دعمر په باره کې چې په څه کې دې تیر کړ او د هغه دعلم په باره کې ورڅخه پوښتنه وشي چې په علم دې څه کار کړی دی او د هغه د مال په باره کې ورڅخه پوښتنه وشي چې مال دې د کومې لارې کسب کړی ؤ او په څه کې دې خرچ کړی ؤ او دهغه د جسم باره کې ورڅخه پوښتنه وشي چې په څه کې د زوړ کړی ؤ؟

یعنې د هغه د مال په باره کې به ورڅخه پوښـتنه وشي، چې د کومې لارې دې کسـب کړی ؤ؟ د حلالې لارې څخه او که د حرامې لارې څخه؟ او ورڅخه به پوښتنه وشي چې په څه کې دې خرچ کړی ؤ ، په نیکی کې دې مصرف کړی ؤ او که په فسق او فجور کې دې مصرف کړی ؤ، اسراف دې په کې کړی ؤ او که تبذیر دې په کې کړی ؤ ؟

**٦-په اسراف او تبذیر کې د مال ضایع کول دي:** په اسراف او تبذیر کې مال ضائع کیږي او د مال د ضایع کیدو څخه شریعت منع کړی ده. پـه حـدیـث شریف کې راځي ، نبي علیـه السـلام فرمـایي:« إِنَّ اللَّهَ كَرِهَ لَكُمْ ثَلَاثًا قِيلَ وَقَالَ وَإِضَاعَةَ الْمَالِ وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ»البخاري(۳/ ٥٢٩)

ژباړه: بیشکه الله تعالی بد گڼي ستاسې لپاره درې (خبرې) قیل او قال (یعنې بې ځایه عبث وینا کول) او د مال ضائع کول او زیاتې (بې حاجته) پوښـتنې کول .الله تعالی وروسـتنې امت ته سـتر ستر فضیلتونه او خصلتونه ورکړي دي، چې د هغې له جملې څخه یو خصلت د خپل مال حفاظت کول دي او د خپل اقتصاد ساتنه ده د خپل ژوند د چارو د سمون لپاره او خپل مال نفقه کول دي ددین په لارو کې .

دداسې امت هیڅ فضیلت نشته چې په خپلو دستر خوانونو باندې خپل مالونه ضائع کوي او رنگارنگ خوراکونه، او ډول ډول میوه جات ور باندې پراته وي ، بلکې هغه امت د فضیلت څښتن دی چې هغه داسې سړي ولري چې بدنونه یې سالم وي ، عزمونه یې قوي وي ، بصیرتونه یې روښانه وي او لوی لوی ارمانونه ولري.

**۷-اسراف او تبذیر انسان په فقر او نیستی اخته کوي:** اسراف کووني کسان خپل لاسونه د خپلو شهوتونو لپاره پراخوي او په هره لاره کې مالونه مصرفوي ؛ آن تر دې پورې چې مالونه او پیسې یې ختمې شي او بیا د فقر او نیستی په گدۍ کینې.

ډیر وخت درنو پلرونو خپلو بچو ته پراخه پراخه جایدادونه په میراث پریښي وي او په بانکو کې ورته زیاتې پیسې په میراث پریښې وي ، خو د هغوی زامن چې نااهله وي،هغه جایدادونه او پیسې چې ددوی لاسونه وربانديې نه وي تناکې شوې ، په ناوړه او غیر مشروع لارو کې یې مصرفوي او د خپلو حجرو دسترخوانونه په رنګارنګ خوراکونو او لذت بخش خوراکونو ډک ساتي، ناکاره او بې فائدې میلمستیاګانې ورکوي ، تر هغې پورې چې هرڅه وبایلي او په فقر او تنګدستۍ اخته شي او بیا دخپل عیال لپاره د یوې مړۍ ډوډۍ درک نلري.

په حدیث شریف کې راځي. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« مَا عَالَ مَنْ اقْتَصَدَ» أحمد (٧ /٣٠٢)

ژباړه:د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: نه دی فقیر شوی ، هغه څوک چې اقتصاد(میانه روي) رعایتوي.

**۸-اسراف او تبذیر نفسونو ته د ظلم کولو جرأت ورکوي:** ځکه چې د اسراف کوونکي هدف د خپل شهوت پوره کول وي ؛ نو ددې پروا نه ساتي چې کوم مال ترلاسه کوي حلال دی او که حرام ، د مشروعو لارو څخه لاسته راځي او که د غیر مشروعو طریقو څخه لاسته راځي!، نو د نورو خلکو لاسونو ته لاسونه ور اوږده کوي او په چل او درواغو ورڅخه مال ترلاسه کوي. په لذتونو کې مستغرق انسان امانت کې خیانت کوي، داسې شخص د شهوتونو اتباع تر هرڅه مهم وي او د لذتونو پیروي ورته تر هرڅه لومړی توب لري.

**۹-په خوراک کې اسراف صحي زیانونه لري:** په خوراک او څښاک کې اسراف او افراط او خوراک د پاسه بل خوراک او نفسي اشتهاوو ته تن ایښودل ، دا ټول نفس ته زیان رسوي او صحت ته زیان رسوي او مال ضائع کوي.مؤمن د شریعت موافق خوراک کوي او په یوه خیټه خوراک کوي او کافر د د شـهوت په بناء خوراک کوي او په اوو کلمو خوراک کوي.په حدیث شریف کې راځي. نبي علیه السلام فرمایلي دي:«ما ملأ ابنُ آدمَ وعاءً شرًّا من بطنِه، بحسْبُ ابنِ آدمَ لقيماتٌ يُقِمْنَ صلبَه، فإن كان لا محالةَ، فثُلُثٌ لطعامِه، وثلثٌ لشرابِه، وثلثٌ لنفسِه».رواه أحمد، والترمذي، والنّسائي، وابن ماجه، وقال الترمذي:حديثٌ حسَنٌ.

ژباړه: نه دی ډک کړی ابن آدم لوخی چې هغه د ډیر بد وي دده له خیټې څخه، کافي ده ابن آدم ته څو مړۍ چې ودروي وربانديې ملا خپله (د عبادت لپاره) بیا هم که چیرې لابدې وه ، نو ثلث (د خیټې) د طعام لپاره ده او بل ثلث د څښاک لپاره ده او بل ثلث د تنفس اخیستلو لپاره ده.

کله چې انسان په خوراک کې اسراف وکړي ، نو دده معده زیات خوراک نشي هضمولی او د معدې په مختلفو مرضونو اخته کیږي او معده دزیات خورک له مله پراخیږي او بیا دانسان د خوراک اشتهاء کمیږي او که چیرې خوراک وکړي هغه نه هضمیږي او امکان لري چې انسان په اسهال یا قبض مرض باندې مبتلاء شي.

همدارنګه په خوراک کې اسراف کول د وینې د غوړ د زیاتیدلو سبب ګرځي چې په نتیجه کې انسان په لوړ فشار اخته کیږي او د زړه مرضونه ورته پیداکیږي او د شکر او د ګردو دمرضونو ښکار کیږي.

حضرت عمرفاروق رضي الله عنه فرمایي:(إياكم والبطنة في الطعام والشراب، فإنهما مفسدة للجسد، مورثة للسقم، مكسلة عن الصلاة، وعليكم بالقصد فيهما، فإنه أصلح للجسد، وأبعد من السرف). الآداب الشرعية والمنح المرعية، لابن مفلح المقدسي( ٣/٢٠١)

ژباړه: ځانونه وساتئ له ډیر خورۍ څخه په خوراک اوڅښاک کې ،بیشکه ډیرخوري فسادوونکی د جسم دی او راوړونکی د بیماری دی (ډیر خوري)، سستوونکی دی له لمانځه څخه او په تاسې لازم ده درمیانه روي په خوراک او څښاک کې، ځکه دا ډیر غوره دی جسم لره او لری ده له اسراف څخه.

امام قرطبي رحمه الله ليکلي دي چې په حديث شريف کې راځي:(مِنَ السَّرَفِ أَنْ تَأْكُلَ كُلَّ مَا اشْتَهَيْتَ). رَوَاهُ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، خَرَّجَهُ ابْنُ مَاجَهْ فِي سُنَنِهِ. وَقِيلَ: مِنَ الْإِسْرَافِ الْأَكْلُ بَعْدَ الشِّبَعِ. وَكُلُّ ذَلِكَ مَحْظُورٌ. تفسير القرطبي (٧/ ١٩٥)
ژباړه: داسراف څخه دا هم ده چې ته وخورې هر هغه څه چې ستا اشتهاء ورته کيږي. داحديث انس بن مالک رحمه الله روايت کړی دی او امام ابن ماجه هم ذکر کړی دی په خپل سُنن کې. او داسې هم ويل شوي دي چې د مړښت څخه وروسته خوراک کول هم د اسراف څخه دي. او دا ټول ممنوع دي.
قاضي عياض رحمه الله ويلي دي: زيات خوراک کول د حرص او دشهوت د غلبې دليل دی او شهوت ددنيا او آخرت د زيانونو مُسبب دی او د جسد د مرضونو او نفس د تنبلۍ او سستۍ جلبوونکی دی.

**۱۰-اسراف انسان په امساک او بُخل اخته کوي:** اسراف انسان د نيکو کارونو له کولو څخه رامنع کوي، ځکه چې لذتونو دده په زړه حمله کړي وي او دده ټوله هڅه داوي چې خپل نفس ته هغه څه چمتو کړي چې دده زړه او نفس يې غواړي له خوراکونو، لباسونو، سپرليو ، دکور اساسات او سامانونه ، نو په نتيجه کې اسراف د مسرفينو لاسونه د سخاوت او د بې وزلو سره د مرستې څخه لنډوي او د حاجتمنو سره د مرستې کولو څخه يې رامنع کوي.

**د اسراف او تبذير ځينې بيلګې:**

د اسراف او تبذير ځينې بيلګې او نمونې په لاندې ډول دي:

**۱-په خوراک او څښاک کې اسراف:** امام محمد شيباني رحمه الله په خوراک کې د اسراف په اړه داسې فرمايلي دي:( من الإسراف الأكل فوق الشبع، ومن الإسراف الاستكثار من المباحات والألوان، ومن الإسراف أن يضع على المائدة من ألوان الطعام فوق ما يحتاج إليه للأكل، ومن الإسراف أن يأكل وسط الخبز وأن يدع حواشيه، أو يأكل ما انتفخ من الخبز كما يفعله بعض الجهال يزعمون أن ذلك ألذ، ومن الإسراف التمسح بالخبز عند الفراغ من الطعام من غير أن يأكل ما يتمسح به، ومن الإسراف إذا سقط من يده لقمة أن يتركها.. ثم يقول رحمه الله: وأمر اللباس نظير الأكل في جميع ما ذكرناه). كتاب الكسب، ص٧٩-٨٣.

ژباړه: د اسراف څخه د مړښت څخه وروسته خوراک کول دي او دمباحاتو او مختلف رنګونه خوراک کول هم له اسراف څخه دي. داهم له اسراف څخه دي چې کيښودل شي په دسترخوان باندې مختلف رنګ خوراکونه دخوراک د حاجت څخه زيات، دا هم د اسراف څخه دي چې وخوري د ډوډۍ منځ او غاړې يې پريږدي او يا وخوري هغه پړسيدلې حصه د ډوډۍ لکه څرنګه چې بعضې جاهلان يې کوي دوی ګمان کوي چې ددې حصې خوړل ډير خوندور وي او دخوراک څخه د فارغيدلو پروخت په ډوډۍ باندې لاس پاکول دا هم له اسراف څخه ده بې له دې چې هغه حصه چې لاس ورباندې پاک شوی وي ونه خوري او داهم له اسراف څخه ده چې کله يوه لقمه دده د لاس څخه ولويږي او هغه پريږدي (او وه يې نه خوري)...او په لباس کې اسراف هم د خوراک په څير دی لکه چې مونږ ذکر کړل.

**۲- په حرامو مواردو او کارونو کې د مال مصرفول تبذير دی:** امام ماوردي د تبذير ځينې بيلګې او صورتونه ذکرکړي دي:(من التبذير أن ينفق ماله فيما لا يجدي عليه نفعًا في دنياه ولا يكسبه أجرًا في أخراه، بل يكسبه في دنياه ذمًا ويحمل إلى آخرته إثمًا، كإنفاقه في المحرمات وشرب الخمر وإتيان الفواحش وإعطائه السفهاء من المغنين والملهين والمساخر والمضحكين، ومن التبذير أن يشغل المال بفضول الدور التي لا يحتاج إليها وعساه لا يسكنها أو يبنيها إلى أعدائه ولخراب الدهر الذي هو قاتله وسالبه، ومن التبذير أن يجعل المال في الفرش الوثيرة والأواني الكثيرة الفضية والذهبية التي تقل أيامه ولا تتسع للارتفاق بها). نصيحة الملوك، ص٣٦.

ژباړه: او له تبذیر څخه دا ده چې خرچ کړي خپل مال په هغه څه کې چې ده ته کومه نفع نه رسوي په دنیا کې او نه کسب کوي په آخرت کې ورباندې کوم اجر، بلکې کسب کوي ورباندې په دنیا کې مذمت او حمل کوي خپل آخرت ته گناه ، لکه خرچ کول په محرماتو باندې او د شرابو په څښلو باندې او فواحشوته په راتلو باندې او ورکول د مال سفهاوو ته، سندرغاړو ته او ټوکه او مسخره چیانو او خندوونکو ته او له تبذیر څخه داهم دي چې مشغوله کړي مال په اضافي کورونو باندې هغه چې هیڅ حاجت ورته نه وي او ممکن چې په کې اوسیږي به هم نه او یا جوړوي(کورونه) خپلو دښمنانو لره او د زمانې خرابۍ لره هغه چې دده قاتل دی او دده له منځه وړونکی دی او له تبذیر څخه داهم دي چې مال مصرف کړي په هغو فرشونو باندې چې نرم او پاسته وي او مصرف کړي مال په هغو ډیرو لوښو د سپینو زرو او سرو زرو باندې هغه چې ورځې یې کمې وي او نه ځائیږي د استفادې لپاره.یعنې د استفادې لپاره ورته نوبت نه رسیږي.

**۳-د اوبو په لګښت کې اسراف:** په اوبو کې اسراف کول مختلف شکلونه لري، لکه اوبه عبث ضائع کول، د اوبه خور پر وخت په اوبو کې اسراف، د موټرو وینځلو پروخت په اوبو کې اسراف، د غُسل او ادس پر وخت په اوبو کې اسراف، د اوبو بې ځایه تویول ، دکور د وینځلو پروخت په اوبو کې اسراف، د ضرورت څخه زیاتې اوبه باغونو ته ورکول، د لښتیو او ویالیو د پاکولو لپاره اوبه کارول، پاکې اوبه چټلول، په اخلي پخلي کې د اوبو اسراف، د لوښو او کالیو وینځلو پر وخت په اوبو کې اسراف....

په یو حدیث شریف کې راځي: ( عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِسَعْدٍ، وَهُوَ يَتَوَضَّأُ، فَقَالَ: «مَا هَذَا السَّرَفُ» فَقَالَ: أَفِي الْوُضُوءِ إِسْرَافٌ، قَالَ: «نَعَمْ، وَإِنْ كُنْتَ عَلَى نَهَرٍ جَارٍ» سنن ابن ماجه (۱/ ۱۴۷)

ژباړه: له حضرت عبدالله ابن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په خوا کې تېرېده په داسې حال کې چې سعد رضی الله عنه اودس کولو( کله چې پیغمبرعلیه السلام ولید چې سعد رضي الله په اوداسه کې زیاتې اوبه استعمالوي) نبي علیه السلام ورته وفرمایل: ای سعده! داڅرنګه اسراف دی؟.

**۴-په ښـــارونو او بازارونو کې اسراف: په ښـــارونو او بازارونو کې د اسراف له جملې څخه** د کورونو او دوکانونو د کرایانو لوړول، د نرخونو زیاتول، د سود کثرت، د بازار څخه مراقبت نکول او په بازارونو کې د غلو زیاتوالی.

**۵-په سپرلیو کې اسراف:** یعنې د ضرورت څخه زیات موټرونه درلودل او د خوښـیو په مناسبتونو کې د حاجت څخه زیات موټرونه په کرایه رانیول.

**٦-د ودونو ، شـیرین خوری او سنت ګیریو مراسمو کې اسراف:** د ودونو، سُـنت ګیریو پر وخت له حاجت پرته زیات ملیمانه رابلل، میلمنو ته قیمتي مینو ګانې انتخابول ، د خوراک د توزیع پر وخت خلکو ته په دسترخوان ډیر ډیر خوراکونه کیښودل ، چې بیا پاتې شونې خوراکونه کثافاتو او ډیرانونو ته اچول کیږي په داسې حال کې چې خلک له بیوزلۍ او نادارۍ څخه په خالي معده او خالي خیټه بیده کیږي.

**۷-د تعزیت په مراســمو کې اسراف:** خلـک تعزیت ته رابلل او هغوی ته قیمتي او رنګارنګ خوراکونه تیارول او لکه د واده په څیر مناسبات ترتیبول.

**۸ ــــ د حج ، عمرې او یا د کوم بل سفر څخه د راستنیدو د مراسمو په وخت کې اسراف:** مبارکې او سترې مسې راتلونکو خلکو ته ډول ډول مصارف، لګښتونه او اسراف او درانه رواجونه ترسره کول.

**نفعَني الله وإياكم بكتابِه، وبسنةِ نبيِّه محمدٍ - صلى الله عليه وسلم -، وأقولُ قولي هذا، وأستغفرُ الله لي ولكم، ولسائرِ المسلمين من كلِّ ذنبٍ وخَطيئةٍ، فاستغفِرُوه، إنه هو الغفور الرحيم.**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**